مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی ۲۰۲۳/۰۷/۲۸

# نړیوالې ټولنې

## ۶۷ برخه

**هغه ټولنې چې ځانګړې واکونه لري**

**۱۴ -- لابراتوارونو ته د اعتبار ورکولو نړیواله کمېټه**
**International Laboratory Accreditation Cooperation(ILAC)**

لابراتوارونو ته د اعتبار ورکولو نړیواله ټولنه، لابراتوارونو او د صلاحیت د تایید یا اعتبار ورکولو او بیا پلټنې د اداري جوړښتونو له منځ څخه، د سوداګرې خنډونو د لیرې کولو له پاره، په کال ۱۹۷۷ کې جوړه شوې ده.
د اعتبار ورکول او د صلاحیت تایید خلکو ته دا امکان ورکوي چې د لابراتوار د ټاکنې په وخت کې، د لابراتوار ناپلېتوب او پیاوړتیا په پام کې ونیسي او سیمه پربکړه وکړي. اعتبار ورکول او د صلاحیت تایید له سوداګریزو توکو سره مرسته کوي چې ژر بازار ومومي.
په نړۍ کې د اعتبار ورکولو او د لابراتوارونو د صلاحیت تاییدونکو څه باندې ۷۰ اقتصادي او سیمه ییزه بنسټونه، د ILAC تړون لاسلیک کړي چې د محصولاتو او د سوداګریزو خدماتو واردات او صادرات چټک کاندي. د دې تړون هدف د نړیوالې سوداګرۍ له پاره، نړیوال چوکاټ برابرول او د دې سوداګرۍ د ملاتړ له پاره، د فني خنډونو لیرې کول دي.
اهداف: ILAC په لاندې برخو کې فعالیت لري:

- د اعتبار ورکونې ځرنګوالی او د صلاحیت په تایید او پلټنو کې همغږې رامنځ ته کول،
- د صنعتکارانو، دولت، مصرف کوونکو او د مقرراتو د جوړونکو تر منځ، د اعتبار ورکونې او د صلاحیت د تایید دودول،
- د اعتبار ورکونې او د صلاحیت د تایید د سیستم ملاتړ،
- د ILAC تړون له مخې، د لابراتواري امکاناتو او پلټنې په رسمیت پېژندل.
- لابراتوارونو ته د اعتبار ورکونې د نړیوالې ټولنې ګډې هڅې:
- د لابراتوارونو د پراختیا – لوړتیا او د تجاربو د اعتبار پېژندنه،

ILAC -د لابراتوارونو د تجاربو د اعتبار د پراختیا له پاره، د اعتبار ورکونې سیمه ییزه ټولنې جوړې کړې دي، لکه په اروپا کې EA او په آسیا – پاسیفیک کې APLAC ،
د اعتبار ورکونې څه باندې ۴۰ ټولنو، داسې تړونونه لاسلیک کړي چې یو د بل اعتبار مني او د درجاتو د ټاکلو ارقام یېپو شان دي،

- د ILAC ترتیبات د کال ۲۰۰۱ د جنورې په ۳۱ نوې شول،
- غړي هېوادونه متقابله هوکړې په رسمیت پېژني چې دا د ازمېښتونو د ارقامو او معلوماتو پیاوړتیا، د ځو هېوادونو په منځ کې د منلو وړ ټاکونکې ونده لري،
- هر کډونوال چې د KAC غړي وي، د بل لابراتوار اعتبار په رسمیت پېژني؛ ځکه چې دوی په خپله د یو بل د لابراتوار اعتبار ته تعهد او کار کړی،
- له ۲۲۰۰۰ څخه ډېرو لابراتوارونو، خپل اعتبارلیکونه د ILAC او MRA د غړیتوب په مرسته لاس ته راوړي[1].

**۱۵ -- د اعتبار ورکولو نړیواله ټولنهInternational Accreditation Forum (IAF)**
نړیوال صلاحیتونه د اعتبار ورکونې د نړیوالې ټولنې یا IAF له خوا ورکول کېږي. د بېلګې په توګه TC ۱۷۶ (فني کمېټه د کیفیت په هکله)، ۲۰۷1TC ( فني کمېټه د چاپېریال) او/ITC ۳۴ (فني کمېټه د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خوړو) په هکله څېړني کوي او اړونده ستندردونه جوړوي. دا نړیواله مرجع د تصدیق پانو (CB) د ورکولو له لارې، د تولنو او د تصدیق پانو د تطبیق څارنه کوي او په ضمن کې د صلاحیت د تایید (AB) تولنو له لارې د CB کړني څاري.
له خدماتو او محصولاتو څخه د استفادې په وخت کې، او په بېلابېلو برخو کې داړمن کېدل، د انسانانو ذاتي هیلې دي.
د محصولاتو او خدمتونو د ودې په بېلابېلو پړاوونو کې مختلفې، برخې منځ ته راغلي او په فعالیت یې پیل کړی. په بېلابېلو ځانګو کې صنعتی پراختیا او د تصدیق پانو او یا تخصصي تاییدونو، د مشتریانو ډاډ ډېر کړی دی[2].

**۱۶ -- د سره صلیب نړیواله کمېټه:International Red Cross Committee (ICRC)**

ICRC یوه نادولتي تولنه ده چې په کال ۱۸۶۴ کې، د ژنیو کنوانسیون له مخې د بشري مرستو، او د جګړو د قربانیانو، د لاسنیوی له پاره جوړه شوې ده. سویتزرلندی سوداګر هازي دونانت، چې په جګړو کې، د زرګونو فرانسوي، استریایي او ایتالوي سرتېرو مرګ ژوبلې ډېر ځورولی و، د دې فکر مبتکر بلل کېږي.
نوموړي په خپل کتاب (د سالفرینو خاطرات) کې، نړیوال دې ته وهڅول چې د جګړې ښکېلې غاړې دي، د قربانیانو د ساتنې، درملنې او پاملرنې په برخه کې ډېره هڅه وکړي. هماغه و چې د سویتزرلند حکومت په کال ۱۸۶۴ کې، د ژنیو لومړي کنوانسیون جوړ کړ.
د ICRC تولې چارې د سویتزرلند د قوانینو له مخې تنظیمېږي؛ خو تولنه په خپلو پرېکړو او کړنو کې خپلواکه ده.
ICRC د نړیوال سره صلیب او سرو میاشتو د خوځښت یوه برخه ده، چې له نړیوال فدراسیون او شاوخوا ۱۹۰ نورو تولنو سره په ګډه کار کوي.دا په نړۍ کې د ډېرو پېژندل شوو او پخوانیو تولنوڅخه ده چې په ۱۹۱۷، ۱۹۴۴ او ۱۹۶۳ کلونو کې د سولې نړیوالې جایزې هم ګټلې دي[3].
اهداف: ICRC په هغه هېوادونو کې چې جګړې په کې رواني دي، کار کوي. د ښکېلو غاړو د ټپیانو درملنه کوي، د هغوی د ژوند ژغورلو هڅې کوي، په مستقیم او نامستقیم ډول د تاوتریخوالي سیمو ته بشري مرستې رسوي او د بشري حقونو د نړیوالو اساساتو او اصولو د عملي کولو له پاره زیار باسي.
د ژنیو کنوانسیون له مخې، د دې کمېټې ځینې اهداف دا دي:

- د مخالفو غاړو د شکایتونو ارزول،
- د جګړه کې د ټپیانو له پاره د روغتیایي پرسونل، وسایلو او درملو برابرول،
- د اسیرانو د درملنې څار او د اسیرانو د برخلیک په هکله له چارواکو سره خبرې،
- په جګړو کې د ورکو کسانو د لټون مرسته،
- د عامو خلکو د ساتنې او پاملرنې د لارو چارو برابرول او د جګړې د ښکېلو غاړو تر منځ، د یو بې طرفه منځګړي په توګه کار،

ICRC خپلو اهدافو ته د رسېدو له پاره ۷ اصله په پام کې نیسي:
ناپېلیتوب، منځګړیتوب، خپلواکي، خپله خوښه،یووالی او نړیوالتوب.
مالي سرچینې:دا تولنه دوه ډوله بودجه لري، لومړنی د مرکزي دفتر له پاره او دویمه د پروګرامونو او ماموریتونو بودجه، چې د ژنیو کنوانسیون د غړو دولتونو، اروپایي تولنې، سیمه ییزو تولنو، د سرې میاشتې تولنو، خصوصي سکتور او خلکو له خوا په خپله خوښه برابرېږي. په دې مرستو کې معمولاً د سویتزرلند، امریکا متحده ایالاتو، اروپایي تولنې، استرالیا، کانادا، جاپان او نوي زیلند ونده د پام وړ ده.[4]
جوړښت : ICRC یوه اسامبله، د اسمبلې شورى او ریاست لري. دواړه اسمبلې ګانې شاوخوا ۲۵۰۰ غړي لري چې ډېر د سویتزرلند دي.
اسمبله: اسمبله چې د ICRC په اداري جوړښت کې لومړی دریځ لري، په منظم ډول د ICRC د اهدافو د ټاکلو، لارښوونو، د تګلارو د جوړولو او د کمېټې د مالي مسایلو په هکله غونډې او پرېکړې کوي .د اسمبلې لږ تر لږه ۲۵ غړي د سویتزرلند دي چې د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي. فرانسوي، انګلیسي او جرمني د کمېټې رسمي ژبې دي.
د اسامبلې شورى :د دې اسامبلې شورى ۵ غړي د اسامبلې له خوا ټاکل کېږي چېیویې مشر، ۲ مرستیالان او ۲ غړي دي او ۴ کاله کار کوي. شورى په کال کې لږ تر لږه لس غونډې لري او په ځینو وختونو کې، د ځانګړو مسایلو په هکله د اسامبلې په استازیتوب هم پرېکړې کولای شي. د اسامبلې د غونډو جوړول او د اسامبلې او ریاست تر منځ د اړیکو جوړول او ټینګول، د دې شورى له مهمو دندو څخه دي[5].
ریاست :د ICRC د ریاست ۵ غړي د اسامبلې له لورې، د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي. دا یوه اجرایيه ډله ده چې د اسامبلې په تګلارو جوړونکو غونډو کې برخه اخلي او ورځنۍ چارې مخ ته وړي.
ریاست پنځه څانګې لري: بشري منابع، مالي او لوژستیک، عامه اړیکې او معلومات او د تولنې د فعالیتونو د همغږې او نړیوال قانون.
دای تولنې په کال ۲۰۲۰ کې څه باندې ۱۴۰۰ متخصصین درلودل چې له ۱۱۰۰۰ سیمه ییزو کارکوونکو سره یې په ګډه کار کاوه. د ICRC د ماموړینو دفتر په ژنیو کې دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ICRC په افغانستان کې: ICRC د رواني خونړۍ جګړی له پیله تر اوسه په افغانستان کی، د جګړې له ښکېلو غاړو سره کار کوي چې د دواړو خواوو اسیران او بندیان دې له خپلو کورنیو سره ولیدای شي، کورنیو ته د بندیانو لیکونه رسوي، معیوبینو ته مصنوعي پښې او لاس جوړوي او داسې نور.
د افغانستان د ICRC مرکزي دفتر په کابل کې دی. ICRC په همدې دفتر کې د بګرام او نورو امریکایي زندانیانو له افغان بندیانو سره د هغوی د کورنیو د ویدیویي خبرو اترو اسانتیا هم برابره کړې وه چې ډېر نیک قدم دی.[6]

---

[1] http:/ilac.org
[2] En.wikipedia.org
[3] www.icrc.org

[4] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۶-۲۱۳

[5] En.wikipedia.org

[6] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۶-۲۱۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ